بسم الله الرحمن الرحیم

د بانکي څارنې او مالي خدماتو لوی آمریت

آمریت عمومی نظارت بانکی و خدمات مالی

کڼه ۸۶۶۰ مرج
۷۸۶۴ / ۷۸۶۴
نېټه ۵/۷/۱۴۴۶

۱۴۰۳/۱۱/۷

DA AFGHANISTAN BANK

# د افغانستان بانک

ټولو قدرمنو مجوزو بانکونو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته وبعد:

**موضوع:** د مندرسو بانکنوټونو عمده ځانګړتیاوې

له ډېر درناوي وروسته؛
د افغانستان بانک د ۱۳۶۴۰ ګڼې ۱۴۴۵/۱۲/۰۳ نېټې متحدالمال په تعقیب ټولو مجوزو بانکونو ته یو ځل بیا لیکل کیږي.

هغه بانکنوټونه چې لاندې ذکر شوې ځانګړتیاوې ولري، په مندرسو بانکنوټونو کې شمېرل کیږي:

۱. هغه بانکنوټونه چې امنیتي نښې یې په بشپړه توګه له منځه تللې وي خو اصلیت یې د پېژندولو وړ وي.
۲. هغه بانکنوټونه چې یوه برخه یې قطع شوې وي.
۳. هغه بانکنوټونه چې ظاهري بڼه یې په بشپړه توګه بدله شوې وي.
۴. هغه بانکنوټونه چې زیات لیکل پرې شوي وي چې له امله یې د بانکنوټ ظاهري بڼه بدله شوې وي.
۵. هغه بانکنوټونه چې د ډېرې کاروني له امله په بشپړ ډول زاړه (مړاوي) شوي وي او د نوټ شمېرنې په ماشینونو کې د شمېرلو وړ نه وي.
۶. هغه بانکوټونه چې ډېر زاړه شوي وي، ډېرې خیرې شوې برخې ولري او په ډېرو برخو یې سکاشټیپ لګېدلی وي او د نوټ شمېرنې په ماشینونو کې د شمېرلو وړ نه وي.

بناءً ټولو مجوزو بانکونو ته لارښوونه کیږي چې د پورته ذکر شوې موضوع په اړه اصولي کړنې ترسره کړي.
د افغانستان بانک ستاسو د لا زیاتو بریاوو غوښتونکی دی.

په درنښت

۱۴۴۶/۷/۲۵

نوراحمد آغا
د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس

کاپي:
- د بانکي عملیاتو قدرمن لوی آمریت ته
- د دفتر ریاست د زونونو د همغږۍ قدرمن معاونیت ته د تکثیر په موخه
- د افغانستان د بانکونو قدرمنې ټولنې ته

مل:
- د مندرسو بانکنوټونو بېلګې (۲) پاڼې

د افغانستان بانک، ابن سیناواټ، کابل افغانستان/ تیلیفون ۲۱۰۴۱۴۶ (۲۰) ۰۰۹۳/ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب
شبکه‌های اجتماعی: فیسبوک - د افغانستان بانک / تویټر - AFGCentralbank@ / انستاګرام - ank